safar

# صلیب

## تر ټولو مهم مطلب

### د پیل ټکی

دژوند په ټولو اړخونو کې، داسې شیان شتون لري چې مونږ له هغه څه چې مهم دي، له پامه غورځوي.

- ولې دومره په ساده ګی سره زمونږ حواس کډوډیږي؟ (په ځینې مثالونو لکه کورنی ژوند، کاري ژوند او روحاني ژوند فکر وکړئ.)
- کله چې مونږ په ډېرو مهمو شیانو تمرکز کوو، څه پیښیږي؟

هغه کسان چې په خپل مسلک کې پر مهمو مطالبو تمرکزکوي، هغوی د زیات پرمختک شاهد دي. خو د هغو کسانو چې حواس یې ګډوډ دی او مهمو مطالبو ته پام نه کوي، خپلو موخو ته نه رسیږي.

له همدې امله دی چې اکثرا وایي، "مهم ټکی دا دی، چې ټول پام مو پر اصلي موضوع راواړو او د هغه اهمیت وساتو.

### په کلام باندې تعمق او غور

د خدای سره زمونږ په سفر کې، "تر ټولو مهم مطلب" څه شی دی؟

پولس رس��ل د اول قرنتیان په مقاله کې د کلیسا ایماندارانو ته په خطاب کې ولیکل، پوهېده چې د خدای برکت یې تجربه کړی ؤ، خو پولس په دې هم پوهېده چې د دې کلیسا غړي د خدای سره د ژوند کولو په لاره کې د اصلي موخې نه انحراف کړی دی. له همدې امله هغه په ټینګارسره له دوی څخه وغوښتل چې له اصلي هدف څخه انحراف ونه کړي او ځېل ځان په هغو شیانو چې حواس یې ګډوډوي، بوخت نه کړي.

اول قرنتیان ۱۵: ۳-۸ په ګډه ولولئ.

- په ۳-۴ ایتونو کې پولس څنګه تشریح کوي چې هغه د صلیب او د مسیح د پاڅون په هکله څه وایي؟
- هغه حقیقتونه کوم دي چې پولس زمونږ لپاره د لومړي اهمیت په توګه روښانه کوي؟

### اصلي مفکوره (لومړۍ برخه)

**صلیب او د عیسی پاڅون زمونږ په سفر کې د مسیح سره تر ټولو مهم مطلب دی.**
ګام په ګام د صلیب او پاڅون پړاونه، چې عیسی له هغه تېرشوی دی، زمونږ د نن ورځې د ژوند دپاره او هغه سفر چې له خدای سره تېروو د لوړاهمیت نه برخمن دی. راځئ چې دا پړاونه په ترتیب سره و څېړو:

**مسیح زمونږ د ګناهونو په لاره کې مړ او ښخ شو (۳-۴ ایتونه)**
که وغواړو چې صادق ووسوو، زمونږ په منځ کې به داسې څوک نه وي چې ووایي ما هېڅکله ګناه نه ده کړې. د رومیانو په لیک کې ویل شوي دي: «ځکه چې ټولو ګناه کړې ده او د خدای له جلاله بې_برخې دي» او «د ګناه پایله مرګ دی» (۶: ۲۳). زمونږګناه د دې لامل کیږي چې مونږ له خدایه جدا شو او مړه شو.

له هغه ځایه چې مسیح په واقیعت کې زمونږ په خاطر مړ او ښخ شو، زمونږ ګناه او مرګ یې پخپله غاړه واخیست. په همدې دلیل، خدای نور زمونږ په وړاندې زمونږ ګناهونه نه حسابوي. کله چې مونږ په مسیح او هغه کارونه چې هغه زمونږ دپاره وکړل، ایمان راوړو، د ګناه له شرمه او ابدي مرګه ازادیږو، د خدای سره پخلا کیږو او نور به د هغه نه جدا نه یو.

*خو ولې دا موضوع د ټولو نه مهم دی؟ د مرګ له وېرې څخه پرته ژوند څنګه نن ورځ زموږ په ژوندون اغېزه کولای شي؟*

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

## اصلي مفکوره (دوهمه برخه)

**په دریمه ورځ د مړو څخه راپورته شو (۴ ایت)**
د حیرانتیا ټکی دلته دا دی چې مرګ ونشو کولای عیسی د خپل ځان سره وساتي. خدای هغه له مرګ نه راژوندی کړ. د عیسی پاڅون یوازې سمبولیک یا تمثیلي نه دی، بلکې دا یو تاریخي حقیقت دی. هغه په مرګ باندې بریالی شو.

عیسی ژوندی دی. نن ورځ هغه مونږ. ګوري، زمونږ. خبرې اوري، مونږ. ته قوت راکوي، مونږ. ته ژوند راکوي (یوحنا ۱۰:۱۰).
نه یوازې دا، بلکې د تلپاتې ژوند څخه هم مونږ. برخمن کوي، ترڅو تر پایه د هغه له حضورنه خوند واخلو.

*ولې دا موضوع د ټولو نه مهم مطلب دی؟ په دې حقیقت پوهېدل چې عیسی ژوندی دی، څنګه تاسو ته د راتلونکې دپاره امید درکوي؟*

## اصلي مفکوره (دریمه برخه)

**هغه خپلو شاګردانو او نورو ته ښکاره شو (۵-۸ ایتونه)**
عیسی هماغه د پاڅون په ورځ، خپل ځان خپلو ځینو شاګردانو ته ښکاره کړ. په نوي عهد کې ډېر شواهد شته چې ښیي ژوندی عیسی خپل ځان خپلو پلویانو ته ښکاره کړ. هر ځل چې هغه ځېل ځان ښکاره کاوه، د خپلو پلویانو نه یې غوښتل چې د ده د ژوندي کېدو خبر نورو ته ورسوي او خلکو ته تعلیم ورکړئ، تر څو هغوی هم د عیسی پیروان شي.

په دې ترتیب هغوی د دې مهمې تاریخي پېښې شاهدان شول او دهغوی له لارې، زیات کسان د عیسی پیروان شول. دا داستان دوام لري او مونږ. هم د هغه یوه برخه یو او کولای شو نورو ته د عیسی شاهد واوسو.

*ولې دا موضوع د ټولو نه مهم مطلب دی؟ کومو شیانو شاګردان وهڅول چې د عیسی مسیح د پاڅون د پېښې شاهدان واوسي؟ تاسو هم څنګه د دې داستان یوه برخه وبلل شوئ؟*

## اصلي مفکوره (څلورمه برخه)

**د سپېڅلي کتاب سره سم**
د سپېڅلي کتاب په یوه برخه کې مو ولوستل، پولس دوه ځلې وایي "د سپېڅلي کتاب سره سم" (په ۳ او ۴ ایتونو کې)

دا یو مهم تفصیل دی. دا مونږ. ته ښیي چې د سپېڅلي کتاب ټول داستان د صلیب او د عیسی مسیح د پاڅون داستان ته اشاره کوي. خدای دا د ژغورنې نقشه په ټول زاړه عهد کې ښکاره کړه یعنې د اسراییلو د قوم د داستان او د انبیاوو د نبوت له لارې، چې هغوی ټول د ژغورونکي ظهور ته اشاره کوي چې هغه به د خدای پاچاهي ټینګه کړي.

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

**د صلیب او د مسیح د پاڅون په خاطر چې زمونږ دپاره معنی لري، د خدای شکر کوم.**

کولی شئ په دې توګه له هغه نه شکرګزاري وکړئ:

- څښتنه، شکر کوم له تا نه چې بخښل شوی یم، ځکه ته زمونږ. د ګناهونو په خاطر په صلیب باندې مړ شوې.
- څښتنه، شکر کوم له تا نه چې زما په ځای دې زما د ګناه قیمت ادا کړ او زه دې د ګناه له دین نه ازاد کړم.
- څښتنه، شکر کوم له تا نه چې د مړو نه په خپل پاڅون سره، په مرګ باندې بریالی شوې او زه اوس کولای شم چې د تلپاتې ژوند نه برخمن شم.
- څښتنه، شکر کوم له تا نه چې ته نن ژوندی یې، زه کولای شم ستا د پاڅون په حقیقت باندې شاهدي ورکړم.

صلیب او د عیسی پاڅون، له مرګه ژوند ته لیرد ښیي، هغه وخت چې د خدای له ژمنې سره سم ناامیدي په امید بدلیږي.
اوس مهال هر یو له تاسو د ژوند په کومه برخه کې ناامېدي تجربه کوئ؟ کورنی ژوند، خپل کار او روحانیت ته پام وکړئ.
په کومه برخه کې ستاسو ژوند پاڅون ته اړتیا لري؟ دعا وکړئ چې د عیسی د پاڅون ځواک ستاسو ژوند ته داخل شي.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- هره ورځ د خدای نه د ټولو نه د مهم شي په شکرگزارئ پیل کړئ:
  - د هغو دعاگانو په مرسته چې په دې گام کې ؤ، دعا وکړئ.
  - د څښتن دپاره د عبادت یوه سندره ووایئ.
  - فکر وکړئ چې په کومه خلاقه طریقه تاسو کولای شئ له خدایه مننه څرگنده کړئ.
- د شرم له احساس نه ازاد ژوند وکړئ. که په ژوند کې مو کومه گناه وي چې په دوامداره توگه تاسو ځوروي، په هغه د عیسی حضور ته اقرار وکړئ، د هغې بخښنه لاس ته راوړئ، او له هغه نه شکرگزاري وکړئ چې په خپل مرگ یې، ستاسو د شرم د احساس په خاطر هغه گناه له منځه یوړه.
  - (رومیان ۵:۸) دا ایت په لوړ اواز ووایئ: خو خدای خپله مینه مونږ ته داسې وښودله، هغه وخت چې مونږ لا گناهگاران وو او مسیح زمونږ دپاره مړ شو.
- د خپل ژوند په هره برخه کې چې نا امیده یئ، دعا وکړئ چې خدای دې هغه په خپل ژوند سره بدل کړي.
- یوحنا ۳: ۱۶ یو ځل بیا ولولئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved